نظرمحمد مطمئن ۲۰۱۶/۱۲/۲۶

د جدي شپږمه،۳۷ کاله وروسته بيا هم بهرني پوځيان

د جدي ۶مه ۱۳۵۸ ل. کال، د پخواني شوروي اتحاد سري لښکري زمور هيواد ته راغلي.
۱: سردار داوود خان شوروي پلوه پرچميانو وهڅاوو چې د پاچا ظاهر په وړاندي سپينه کودتاه وکړ، د چنګابښ مياشتي پر ۲۶مه ۱۳۵۲ ل. کال (د جولای ۱۷مه ۱۹۷۳) يې جمهوريت اعلان کړ. او سپينه کودتاه يې پرته له خنډه کاميابه شوه.
۲: د ثور اوومه ۱۳۵۷ل. کال خلقيانو د سردار داوود خان پر ضد کوتاه وکړه. او نورمحمد تره کی واک ته ورسيد .
۳ : حفيظ الله آمين پر خپل رهبر تره کي کودتاه وکړه (۲۵ سنبلي ۱۳۵۸)، د حکومت واګي يې پخپل لاس کي واخيستي، د ده د مطلقه واک موده سل ورځي وي.
۴ :د جدي ۵ مه ۱۳۵۸ ل. کال د شپې مهال د شوروي اتحاد سفارت اړوند خاصو ځواکونو او پرچم ډلي لخوا حفيظ الله امين ووژل شو. د جدي ۶م سهار د شوروي اتحاد ناولي يرغلګر پوځيان د کابل بنار کي ولېدل شول. دوی له ځانه سره د شوروي اتحاد افغان بريځی ببرک کارمل له تاشکنده راووست او په ارګ کي يې کيناوو
۵ : د ثور مياشت ۱۳۷۱ل . کال کي د کمونستي رژيم وروستی د حکومت مشر ډاکټر نجيب الله د شورای نظار او پرچم ډلي د ائتلاف په نتيجه کي بې واکه شو.
۲۶ د سپټمبر ۲۰۰۱، د ماسپښين ۲:۴۰ بجې، لومړی ميوري امريکايي د پنجشير آستنه سېمه کي د رود په غاړه د شمال تلوالي په کوچني جوړ شوي ميدان کي له الوتکي کښته شو، دانو د ۱۱/۹ څخه ۱۷ ورځې وروسته وو، چې د امريکا د سي آی ای ډله پنجشير ته راورسيده.
د اکټوبر پر اوومه د شپې ۹ بجې امريکا لومړی بمبارد کابل کي د هوايي رادار دستګاوي، د طالبانو او عربانو پر ځايو پېل کړ، کابل کي د امريکا له بمبارد سره سم د امريکا د بهرنيو چارو او پاکستان اندېښنې هم راپورته شوې چې شمال تلواله به کابل ته ننوځي او هلته به غچ اخيستنه او دواک انحصار وکړي. ډاکټر عبدالله عبدالله ويل چې دا د پښتنو او پاکستان تبليغات دي چې شمال تلواله به کابل کي د واک انحصار او غچ واخلي.
د نومبر پر ۱۴مه ۲۰۰۱، د شمال تلوالي وسلوال کابل ته ننوتل، استاد برهان الدين رباني خپل ځان ارګ ته ورساوو، د حکومت واګي په لاس کي اخيستل يې خپل قانوني حق وباله.
د ډسمبر ۲۲مه ۲۰۰۱، حامد کرزی د امريکايانو لخوا واک ته ورسول شو او تر ۲۹ سپټمبر ۲۰۱۴ پوري په واک کي پاتي شو.
۲۹ سپټمبر ۲۰۱۴ د يو لړ مراسمو په ترڅ کي ډاکټر اشرف غني د امريکا د بهرنيو چارو وزير جان کيري په وساطت او منځګړيتوب د ګډ حکومت د مشر او ډاکټر عبدالله عبدالله يې د ګډ حکومت د اجرائيه مشر په توګه واک ته ورسول شول.
د پخواني شوروي اتحاد له يرغل وروسته دادی نن يې د يرغل ۳۷ کلونه بشپړ شوو، لا هم افغانان په ارام نه دي.
د پخواني شوروي اتحاد له لس کلن يرغل او په افغانستان کي د سرو لښکرو د موجوديت وروسته تمه داوه چې افغانان به په يو داسي نظام کي سره راټول شي چې خپلواک اسلامي نظام به وي، افغانستان به د نړيوالو له توجه برخمن هيواد وي، او دلته به سوله او امن وی.
د امريکا او روسانو د ناسمو تګلارو، د ګاونډيو د حرص له امله، د مجاهدينو د خپلمنځي جګړو له کبله، افغانان د اوږدي جګړې قرباني شول.
امريکا پر افغانستان د حملې پر مهال ژمنه کړي وه چې يو سولئيز او د ښه اقتصاد او ښه حکومت لرونکی افغانستان جوړولو کي به مرسته کوي، ولي هغوی د سېمې اړوند خپل نور اهداف درلودل، چې له ۱۵ کلنې جګړې وروسته هم افغانان تر پخوا له زياتو امنيتي ستونزو سره مخ، او د يو کمزوري حکومت شاهدان دي.
افغانان پوهيدل چې کله به هم امريکا ونه غواړي چې يو خپلواک او په ځان بسيا افغانستان دي په سېمه کي شتون ولري، او د مسلمانانو ګروه داده چې بهرني پوځيان د جوړولو لپاره نه بلکي د خرابي او خپلو هيوادونو د شومو اهدافو د پلي کولو لپاره نورو هيوادونو ته ننوځي.

افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکنې د ليکنيزې بڼې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکې په ځير و لولئ

دادی یوځل بیا په سېمه کي د امریکا او روسیي د رقابت نښي لیدل کیږي، دلته د هند او پاکستان رقابت هم ورځ تر بلې مخ په زیاتیدو دی، د ایران او سعودي عربستان لاسوهنې هم نور پټې نه دي.
که افغان مشران، سیاستوال او ځوانان له سیاسي بصیرت څخه کار وانخلي، کیدای شي مور یوې بلې اوږدې جګړې ته ننوځو.
هیله ده چې د امریکا نوي اداره په افغانستان کي خپل پوځي شتون ته خاتمه ورکړي، د خپلو پوځیانو د وتلو لپاره محدود او معقول مهالویش وښیي، کومه جګړه چې یې پیل کړي وه، همدا جګړه په پوره مسؤلیت سره پای ته ورسوي، او تر شا داسي افغانستان پریږدي چې افغان شمولې نظام، سوله او امن وي.
زمور امید دی، چې داځل به نړیوال د ۱۹۹۰ کلونو په ډول افغانستان د بهرنیو پوځیانو تر وتلو وروسته هیر نه کړي، بلکي خپلې ډیپلوماټیکې اړیکي به ورسره وساتي، وغځوي او په بېلابېلو رغنیزو، ملکي، زراعتي، تعلیمي، معادنو او ټولګټو اقتصادي پروژو کې به ورسره مرستندویه پاتې شي.

پای

افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکني د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولـئ